# په اتلسم قرن کښي ځيني
# افغاني سفيران

تر ۱۱۶۰ ه کال را وروسته چې احمدشاهي افغاني شهنشاهي په افغانستان کښي جوړه سوه، نو دکندهار د دربار سياسي روابط هم له ماتحتو حکومتو سره په سند او ډهلي او پنجاب او کلات کښي موجود وه، او په خراسان کښي هم د نادرشاه افشار دکورنۍ شاهان دافغاني سلطنت تر حمايت لاندي وه، د بخارا د شاهانو سره هم دغسي سياسي دوستانه اړيکي نښتي ؤ.

تر هغه ځايه چي ماته معلوم دی، داحمدشاهي دربار يو وکيل د سند د ميرانو په دربار کښي مقرره ؤ چي د هغه ځای د داخلي امورو نګراني به ئې کوله او هغه پيسې چي هر کال به له سنده څخه احمدشاهي دربار ته رالېږل کېدې د دغه سفير په وسيله به رارسېدې او د سند ميرانو به يو خپل سفير په کندهار کښي درلود.

تر ۱۱۶۱ هـ کال وروسته د سند ميرميان نورمحمد يوسفير احمدشاهي دربار ته استولی ؤ. چي نوم ئې بهايي خان کلهوړه ؤ. او تر

ده وروسته نو دغه سفارت شیخ محمد محفوظ سرخوش ته سپارلی سوی ؤ، او بیا نوځو کاله مسلسل گدومل هندو دسند دمیرانو له خوا دکندهار په دربار کښې سفیر ؤ، چې دده په ذریعه دسند میران رسماً دکندهار له درباره منل کېده، او دوي ته به القاء او خلعتونه ورکول کېدل.

په ۱۱۶۷ هـ کال چې دسند میر محمد مرادیاب خان امیرسو، نو د احمدشاهي درباره د گدومل سفیر په واسطه ده ته د سربلند خان لقب ورکړه سو، او د احمدشاه بابا له خوا اسمعیل خان پني د سند په دربار کښې رسمي نماینده مقرز سو، او داسي ښکاري چې د سند لایق او فعال سفیر گدومل د احمدشاه بابا تر مرگه لا هم دغه وظیفه درلوده او په کندهار کښې ؤ.

د تیمور شاه له درباره په ۱۲۰۶ هـ کال اسدالله خان نورزی د سفیر په ډول د هندوستان د ډهلي دربار ته رالېږل سوی ؤ، چې د ده سره غلام محمدخان د وقایع نگار په ډول ملگری ؤ، دا سفیر د جلال آباد او پېښور له خوا کشمیر او شاه جهان آباد ته ولاړ او د تیمورشاه یو فرمان ورسره ؤ، چې د دغي لاري افغاني حاکمان به دوي سالم رسوي. دا فرمان په تاریخ حسین شاهي کښې نقل سویدی.

دغسي هم په دغه خطي کتاب کښې بل فرمان سته چې په ۲۴ د جمادي الاخر ۱۲۰۶ دهغه غلام احمد خان افغاني وقایع نگار په نامه لیکل سویدی او داسي ښکاري چې د افغاني سفیر اسدالله خان نورزی سره د هند سفیر وجیه الدین ملگری دی، او دی د ملتان له خوا څخه ډهلي ته تی، اوهغه غلام احمد خان هم ورسره ؤ ځکه چې د پېښور د عامل قاسم خان په نامه حواله سویدی. د تیمورشاه یو بل فرمان چې د رجب په ۲۵ تاریخ ۱۲۰۷ هـ کال کښل سویدئ، دا ښکاره کوي چې هغه

غلام احمد خان لا هغسې د هندوستان په وقايع نګارۍ مقرر دئ، او له هغه ځايه خپل رويدادونه يعني راپورونه دکابل دربار ته را استوی. او دغه مطلب يو بل فرمان هم تائيدوي چې په ۱۲۰۸ ه کال صادر سويدئ.

داسې ښکاري چې د هندوستان سفير وجيه الدين خان ته د تېمورشاه له خوا وجيه الدوله لقب ورکړه سويدئ، اودی د ۱۲۰۶ هـ د ذيقعدې په مياشت بيرته د ملتان لخوا ځخه ډهلي ته تی، او هغه غلام احمد خان هم ورسره وُ ځکه چې يو دغسې فرمان دتيمور شاه له خوا په هغه تاريخ حسين شاهي کښې سته.

د تيمورشاهي دربار روابط د پنجاب له حاکمانو سره له دې ځخه ښکاري چې اننت بهادر دهغه ځاي يو حکمران ته د نجيب الدوله او جګناته رام بل حکمران ته ته د مظفر الدوله دلاور د جنګ القاب ورکوی، او د دوي د عارضو ځواب په شاهي فرمان کښې صادروي او عاليجاه مقرب الخاقان احمدخان بارکزی شاهنکچی باشي له هغي سيمي ځخه راغواړي. دا فرمان هم حسين شاهي تاريخ ضبط کړيدي.

په دې کتاب کښي د شاه زمان فرمانونه هم سته، او داسې ښکاري چې هغه غلام احمدخان اوس د افغاني دربار له خوا د سفير او وقايع نګار په ډول په ډهلي کښي پاته دئ، او کله کله کابل ته هم راځي.

په ۱۲۱۱ ه کال د ډهلي له درباره سيدمحمود خان کابل ته راغی دې سفير يوخط هم ورسره راوړي وُ چې د ډهلي پاچا ميرزا اکبر پخپله وليعهدي ته ليکلی او د هغه منظوري او په رسميت منل ئې د شاه زمان له درباره غوښتي وو. نو شاه زمان د ۱۲۱۱ ه کال په ذيحجه کښې يو فرمان صادر کئ اوپه هغه کښي وايي :

" رقميه مدت طراز که در باب احوال موالفت اشتمال، و ولي عهدي اخ اعزاز شد ارجمند ستوده سير ميرزا محمداکبر وديگر مواد،

رقمزده کلك بلاغت نشان منيشيان عطارد توامان، بـه صـحابت سـيادت پناه سلاله السادات العظام سيدمحمودخان انفاذشده بود، عز ورود يافت احوال حالي وخاطر نشان شد. قبل ازين حسب الرقم قضاشـيم، بـرادر عزيز ميرزا اکبر بولي عهدي مقرر نموده بوديم، حال نيز معزي اليه را مجدداً بوليعهدي آن ذيجاء مقرر وخلعت پادشاهي معه يک راس اسپ، به صحابت سيادت پناه مذکور جهد برادر کامگار ارسال شـده عنقريـب وارد و شرف وصول خواهد يافت چون بين دولتيـين عـاليتين را فيمـا بين مغايرت منظور نيست همه اوقـات گـزاری حـالات خيريـت آيـات نموده باشند."

شاه زمان له درباره يو بل فرمان د لنهاستگهـ پـه نامـه صادرسـويدئ، چي په هغه کښي وايي : " بنا برين درين وقت عاليجاه غلام احمد خان را به جهت تفحص احوال دوستان و حاسدان اين دودمان رفيـع الشـان مامور آنطرف فرموده ايم."

او له دې څخه ښکاري دغه سفير ببلـه ډهلـي دهندوسـتان د نـورو حکمرانانو سره هم سياسي روابط ټينگول .

په ۱۲۰۸ ه د انگريزانو يو سياسي هيئت کابل او د شاه زمان دربار ته راتی نو له شاهي درباره يو فرمان د مهاراجه د نهراج دولت راوسنديه په نامه صادر سو چي وايي : " درين ولاعمده الخوانين العظام غلام احمـد خان وقايع نگار بلاد هندوستان بعرض رسانيد، کـه عاليجاهـان سـيادت ونجابت دستگاهان ...... وسيد غلام محمد خان ايلچيان فرنگي عظـيم حضور انور ميباشند، به ورود عاليجاهـان مزبـور هـر يـک بلـد وبدرقـه همراه آنها نموده از حدود خود صحيح وسالم بگذارنيد." دغـه ايلچيـان فرنگي خو تنه وو، چي د تاريخ حسين شاهي په ناقصه نسخه کښي فقـط د يوه سيد غلام محمد خان نوم ليکلی دئ. دغه بايد هير نه سي چـي د

فرنګي د دغو ایلچیانو راتګ د هغه وخته سره برابر دئ، چې سر جان مالکم د انګریزانو نماینده د قاجاري دربارسره د افغانستان د محتملې حملې پر خلاف په ۱۸۰۱ معاهده امضاء کړې وه.

د شاه زمان له درباره په پنجاب کښې سردار احمدخان بارکزی شاهکچی باشی د تنظیمه رئیس په ډول مقرر وُ، نو یو فرمان د عجیب سنګه راجه جسروټ په نامه سته او هغه ته امر کیږي چې ددغه افغاني سردار اطاعت او دده په سلاح کار وکي.

لکه چې وویل سوه د هندوستان سفیر په افغاني دربار کښې سیدمحمود خان وُ، دغه سفیر چې بیرته ډهلي ته تی، نو د شاه زمان یو فرمان د ډهلي د شهزاده میرزا اکبر په نامه صادر سو، او ډیر سوغاتونه ددغه سفیر په وسیله د هند شهزاده ته د ولي عهدي د رسمي منلو له فرمانه سره واستول سول. دا فرمان د ۱۲۱۱ هـ په ربیع الاول کښې صادر سو. داسي ښکاري چې ددغه کال په آخر کښې افغاني سفیر او وقایع نګار غلام احمد خان له ډهلي څخه بعضي پیغامونه کابل ته راوړي وه، چې بیرته خپل ماموریت ته تی نو د ۱۲۱۱ هـ د ذیحجې په میاشت یو فرمان د شاه زمان له خوا د " خاصه دودمان برتري، نقاوه خاندان سروري، برادر سعادت سیر میرزا محمد اکبر" په نامه صادر سو، چې غلام احمدخان مو بیرته دهندوستان دکارونو دپاره در واستاوه، او دا فرمان دیوې سیاسي اعتماد نامې په ډول لیکل سویدی.

اعلیحضرت زمان شاه د افغانستان یو میړنی اولوړ همته پادشاه وُ، ده غوښته چې د احمدشاهي مملکت سرحدونه په هندوستان کښې خپل اقتدار هم وساتي، نو ئې په ۱۲۱۱ هـ کال له پېښوره د هند پر خوا حرکت وکئ، کله چې افغاني لوي لښکر تر اباسین واوښت او پر جسن ابدال ئې واړول، نو د هند پاچا شاه عالم یو مکتوب د سفیر میرزا غلام

محمد خان په وسیله د شاه زمان دربار ته را واستاوه. په حسین شاهي تاریخ کښي یوفرمان سته، چي د شاه زمان له خوا د شاه عالم د مکتوب په جواب کښي لیکل سویدئ، او داسي وایي چي افغاني لښکر اوس پر حسن ابدال پراته دي مګر ځکه چي د ګرمۍ موسم راغی، نو اوس بیرته کابل ته ځو او د منی په موسم کښي بیرته هندوستان ته را رهی سو.

په دې فرمان کښي وایي :

"بناء علیه عالیجاه رفیع جایگاه میرزا غلام محمد خان - که مایل امانت داري مکنون اسرار ورموز استار وبه حلیه کیاست وفراست متحلي است، به جهت اعلام چگونگي وهاج روانه بزم والا شد تا عجاله الوقت شرفیاب حضور شده مقدمات مکنونه را که به تبلیغ آن مامور است به مسامع اطلاع و آگاهي خواهد رسانید."

دا ؤ د اعلیحضرت احمد شاه بابا څخه تر شاه زمان پوري، د افغاني دربار روابط د مملکت د شرقي پلو له تحت الحمایه حکمرانانو سره چي حتی د ډهلي دربار د ولیعهد د تقرر منظوري هم له کابله غواړي.

د افغاني شهنشاهۍ یوه بله ما تحته سیمه دبلوڅو لویه خاني وه په کلات کښي، چي د احمدشاه بابا معاصر د بلوڅو لوی خان نصیر خان بلوخ ؤ او دی به هر وخت د احمدشاه سره په جنګو او سفرونو کښي ملګری ؤ، او حتی د دی بلوڅی خاندان ښځي هم په احمدشاهي حرم کښي وې.

د بلوڅو د خان له خوابه هم یو نماینده تل په افغاني دربار او کندهار کښي ؤ او دغه نماینده د امیر دوست محمد خان تر عصره پورې لا هم په کندهار کښي سکونت کاوه ، او د دکتور بیلیو له یاددا‌ښتو څخه چي د سرلمسدین له هیئت سره په ۱۸۵۷ م په کندهار

کښې ؤ همداسي ښکاري چې د بلوخانو دکلات د خان له خوا يو نماينده په کندهار کښې د شهزاده غلام حيدر خان په دربار کښې ؤ او ځيني سياسي کارونه ئي هم کوله.

دا وه ځيني هغه معلومات چې د تيمورشاهي او زمان شاهي دورې له سياسي روابطو څخه مخصوصاً د مملکت د شرقي همسايګانو سره موجود وه، او دا هغه وخت دئ چې لا د خانه جنګۍ په سبب د افغان لويه شهنشاهي نه وه ورانه سوې، او دافغاني دولت نفوذ شرقاً تر ډهلي پوري رسېدی.

مګر د شاه زمان د سلطنت دوره دده په ناکام او ړندولو سره په داسي حال کښې ختمه سوه چې په مملکت کښې خانه جنګۍ اوپه سدوزو شهزاده ګانو کښې نفاق ولوېد، او د افغاني شهنشاهۍ شرقي برخي لکه کشمير، پنجاب، سنده، بلوڅو يو يو له دې مملکته جلا سول ، او هغه وسيع مملکت چې د احمدشاه بابا په لاس جوړ سوی ؤ دده د لمسيانو له خوا ټوټې ټوټې سو او دا زموږ د ملي تاريخ يوه اسفناکه دوره وه. (۱)

(۱) آريانا مجله، ۱۳۴۶ کال، ۴ مه ګڼه ص ۱